مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۳/۱۳

غزل

نه پرې پوهېږم چې کیسه به څه وي
ورک مې سکون دی حادثه به څه وي

زما ډیوه شوخې سیلی وژلې
تیارو کښې پروت لمبه، لمبه به څه وي

لکه د مړي بې وارثه حیران
ګور او کفن او جنازه به څه وي

د سر دستار مې په تور لُنګ بدل شو
ځانګم په دار نو غرغره به څه وي

ګونګی رباب یمه، آواز نه لرم
خوږه سندره او نغمه به څه وي

ای پسرلیه ستا ګلان چرته دي
خزان، خزان شوې ستا وږمه به څه وي

مصطفی پسرلی
13/March/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ